# Depiction of Pashtun Nationalism in Pashto Charbaita

# پښتو چاربېته کښې د ملت پالنې ځرک

**Dr - Javed Iqbal**[*]
**Dr - Hanif Khalil**[**]

**Abstract:**

Nationalist approach remained a vital factor of Pashto Poetry since very long - Some of the very prominent ingredients of Pashtun Nationalism had been seen in different genres of Pashto poetry which lead to the folk genre of Charbaita in particular - Most of the Pashto Charbaitas have been composed during Sikh regime on Sub-Continent - The Pashto folk poets specifically the poets of Charbaita of that time have shown their rebellious and revolutionary tendency against the Sikhs and after that too, in their unforgettable charbaitas - This article reflects the historical and martial status of the then Pashtuns in the context of Pashto charbaita with a true spirit of Pashtun Nationalism - A number of specimens from different charbaitas have also been quoted to clarify the Pashtun social structure and Nationalistic inclination -

**Keyword**: Pashtun Nationalism, Charbaita, martial status, social structure -

چاربېته د پښتو داسې صنف دے چې نۀ يواځې د خپل صنفي او هنري جوړښت له مخه د پښتو منظوم ادب خپل اصلي، ځانګړے او فطري رنګ او اهنګ لري بلکې د موضوع، فکر و خيال او معنويت له مخه هم دغه صنف په هر دور کښې د پښتني روح، کلتور، تاريخ، ټولنيز ژوند او پښتونولۍ د فلسفې امين پاتې شوے دے، دغه وجه ده چې د بې پنا شعري قوت، فني تکنيك او صنفي تنوع سره سره چاربېته د پښتون اولس د کلتوري ژوند د ګڼو اړخونو يو تاريخي دستاويز حېثيت هم ترلاسه کړے دے، ځکه چي کله مونږ د پښتو چاربېتې فکري او موضوعاتي مطالعه کوو نو ډېر په اصلي (Original) او فطري صورت کښې راته د چاربېتې په آئينه کښې پښتني سياست، عقائد، نفسيات، جماليات او

* Assistant Professor Department of Pashto UOB, Quetta
** Associate Professor National Institute of Pakistan Studies, QAU, Islamabad

سماجيات تر نظره کېږي او دا هم جوته ده چې دغه هرڅۀ په پوره شعري قوت، صلاحيت او فني ښايست سره د چاربېتې په آئينه کښې خپل ځان ښايي چې هم دغه لړ کښې د ملت پالنې احساس او شعور هم د پښتو چاربېتې برخه جوړه شوه۔

په پښتو چاربېته کښې د ملت پالنې نه مراد د پښتون ملت د مختلفو اړخونو مطالعه ده، د ژوندو ملتونو شاعران په عمومي توګه په خپله شاعرۍ کښې د ملي شعور د احساس نه بغېر په علمي او ادبي توګه ژوندے نۀ شي پاتې کېدے۔ د پښتون ملت نمائنده شاعرانو هم په هر دور کښې په خپله شاعرۍ کښې د پښتون ملت اجتماعي، سياسي او ټولنيز شعور وخت په وخت څرګند کړے دے۔ د دغه ملي شعور ترجماني پښتو شاعرانو د شاعرۍ په مختلفو صنفونو کښې کړې ده چې د نظم او غزل د علمي شاعرانو سره سره د پښتو اولسي شاعرانو هم د دغه ملي فريضې نه ځان نۀ دے ژغورلے۔ د پښتو شاعرۍ د مختلفو صنفونو مطالعه مونږ ته دا ښايي چې د معلوم ادبي تاريخ تر مخه پښتو شاعري د وړومبۍ ورځې نه د قامي او ملي احساساتو ترجمانه پاتې شوې ده۔ د امير کروړ نظم د پښتو شاعرۍ د معلوم تاريخ تر مخه وړومبے نظم ګڼلے شي چې د ملي غورځنګ نمائندګي کوي۔ د 139هجري نه تر 900هجري پورې د پښتو شاعرۍ د وړومبي دور شعري سفر کښې په مختلفو دورونو کښې د مختلفو شاعرانو شعري نمونې د پښتون اولس د ملي احساس ثبوتونه وړاندې کوي۔ د روښاني دور شاعرانو هر څو که د بايزيد انصاري د صوفيانه عقايدو او روحاني مسئلو ترجماني د خپلې شاعرۍ بنيادي موضوع ګرځولې ده خو بيا هم دا جوته ده چې يو طرف ته روښاني غورځنګ په خپله يو ملي او قامي غورځنګ ۇ او بل طرف ته د روښاني شاعرانو د صوفيانه مسلك باوجود دغو شاعرانو ته د خپلې ژبې پښتو د بقا او ارتقاء احساس ۇ چې دغه احساس ئې د يو ملي فريضې په حېث د خپلې شاعرۍ برخه ګرځولې ده۔ دغه شان د خوشحال بابا د شاعرۍ بنيادي نکته د پښتون ملي احساس او قامي شعور پاتې شوے دے او بيا وروستو د کلاسېکي شاعرانو په کلام کښې ځاے په ځاے د پښتو او پښتونولۍ ملي احساس د هغوئ د شعر برخه جوړه شوې ده۔

د پښتو د کلاسېکي دور نه پس چې د عوامي او اولسي شاعرۍ غورځنګ سر پورته کړے دے نو د رومانوي، ديني، مذهبي او ټولنيز شعور تر سيورې لاندې ئې ملي شعور هم د يوې بنيادي او څرګندې موضوع په توګه د دغه اولسي شاعرۍ جوته موضوع ګرځولې ده۔ د اولسي شاعرۍ په ګڼو صنفونو کښې د دغه ملت پالنې څرك ليدے شي چې د

ټولو نه جوت او نمائنده صنف په کښې د چاربېتې دے۔ د پښتو شاعرۍ د نورو اولسي صنفونو غونډې په چاربېته کښې هم یو شمېر چاربېتې خو د پښتني رومان، عشق او مینې د قلبي وارداتو نمائندګي کوي خو یاده دې وي چې دغه رومانوي احساس او د عشق و محبت احساس هم د پښتني ماحول او کلتوري روایت په پرده کښې ښودلے شوے دے۔ مینه په پښتنه ټولنه کښې څنګه کیږي او د پښتني کلتور په ماحول کښې د پښتون اولس مینه هم پښتنه مینه وي چې د پښتني ټولنې سره ئې رشته او تړون په هیڅ صورت نۀ شي بېلېدے څکه پښتو چاربېته کښې د پښتني رومان ترجماني په خپله د پښتون ماحول، پښتني کلتور او پښتون اولس د ټولنیز کلتوري ماحول ترجماني ده چې د ملت پالنې د دائرې نه وتلے نۀ شي او بیا د دغه پښتني رومان نه علاوه چې په پښتو چاربېته کښې د پښتون اولس د ملت پالنې د څرک درك لټولے شي نو دغه لړ کښې ډېر غټ، څرګند او نمائنده موضوعات زمونږ مخې ته راځي چې د ملت پالنې دائره ئې پراخه کړې ده، د پښتو چاربېتې د دغه رومانوي رنګ نه تر ملي موضوعاتو سفر ته ډاکټر راج ولي شاه خټك هم اشاره کړې ده او په پښتو چاربېتو کښې یاد شوے رومانوي رنګ ئې د پښتون رومانویت په نوم یاد کړے دے چې په خپله د پښتون ثقافتي ماحول او پښتني ملي خصوصیاتو ته اشاره کوي۔ ډاکټر راج ولي شاه خټك دې لړ کښې داسې لیکي:

"د پښتونخو د شعر هار و بهار کښې چې جېم ډار مستېتر کومې چاربېتې را یو ځاے کړې دي هغه ټولې د پښتون رومانیت مکمل تصویر سازوي، اګرچه ډار مستېتر غیر شعور ډول په دغه مجموعه کښې د پښتو د شعر عوامي اصناف را ټول کړي دي، ولې دا خیال ئې لرلے دے چې کومې چاربېتې تاریخي پس منظر لري، د هغو را غونډول د تاریخي اهمیت له مخه ښکاري"(1)۔

پښتو چاربېتې په باقاعده ډول په برصغیر د سکهانو د حکمرانۍ په وخت سر ښکاره کړے دے، د معلومو اسنادو تر مخه وړومبۍ دوه چاربېتې د حافظ رحمت خان زوئ نواب محبت خان لیکلې دي چې رومانوي رنګ د دغه ابتدائي دور نه د انګرېز تر دوره چاربېته عموماً په رومانوي رنګ کښې رنګ شوې ښکاري چې بیا وروستو ئې د انګرېزانو د حکمرانۍ په دور کښې په شدت سره قامي او ملي رنګ اخستے دے خو تر څو چې په چاربېته کښې قامي او ملي رنګ جوت شوے نۀ ؤ تر هغې چاربېتې خپل فني زور هم نۀ ؤ ښودلے۔ ډاکټر یار محمد مغموم خټك د سکهانو د دور نه تر انګرېز دور پورې د عوامي او اولسي

شاعرۍ د کم مقبولیت وجه هم دغه د ملي، قامي او سیاسي رنګ نۀ لرل ښايي او لیکي:

"د سیکانو د دور نه ئې واخله د انګرېزانو د دور تر یوې خاصې برخې پورې بغېر د عوامي شاعرۍ نه نوره داسې شاعري په نظر نۀ راځي چې د شاعرۍ د تاریخ سازۍ په لړ کښې د حوالې په توګه پېش کړے شي۔ کومه شاعري چې په دغه دور کښې شوې ده، د څۀ خاص قومي خصوصیاتو رنګ نۀ لرلو په وجه یا خو د زمانې بادونو په مخه یوړه او یا تر قلمي نسخو محدوده پاتې شوه او د بد قسمتۍ نه زمونږ د نظر نه هډو تېره نۀ شوه، داسې ځکه وشول چې دغې شاعرۍ د قومي خصوصیاتو نمائندګي نۀ شوه کولے"(2)۔

او کله چې اولسي شاعري په عمومي توګه او چاربېته په خصوصي توګه د ملي جذباتو هېنداره جوړه شوه او د اولس جذبات ئې د حرکت او حرارت سره مخ کړل نو بیا د دغه دور په حقله ډاکټر یار محمد مغموم خټک داسې ولیکل:

"خو لکه څنګه چې ما مخکښې عرض وکړ دغه شاعري تر اولسي شاعرۍ محدوده وه او د اولس د جذباتو تودولو دپاره کافي ګڼلے شوه او چې رښتیا خبره وي نو دغې شاعرۍ د اولس جذبات تاوده کړل او غاصب ئې پخپله زمکه قدم لګولو ته پرې نۀ ښوۀ، دغه شاعري اکثره په چاربېتو او لنډیو مشتمله وه او سر ئې د داسې قسم ټپونه لګېدلے ؤ چې د اولس په زړونو ئې نېغ په نېغه اثر کولے شو، لکه دا ټپه:

چرته انګرېز چرته چترال دے
بې ننګي زوره شوه انګرېزان چترال ته ځینه"(3)۔

دا هغه زمانه وه چې انګرېز نۀ یواځې د برصغیر په مسلمانانو حکمراني کوله بلکې د پښتنو په خاوره او سیمه هم قابض وو، د دې دور د پښتو چاربېتو خاص خبره دا ده چې پښتون اولس څنګه د اسلامي جذبې د سیوري لاندې د انګرېز خلاف جهاد او مزاحمت کولو دغسې ئې د پښتون د ملي جذبې ترجماني هم کوله ځکه د چاربېتې شاعرانو په خپلو چاربېتو کښې د دیني جذبې ترجماني د پښتني غېرت د سیوري لاندې کوله، پښتنو اسلام او پښتو یوه ګڼله او دغسې د چاربېتې شاعرانو هم په خپلو چاربېتو کښې د اسلام او پښتني غیرته دواړو په جذبه د انګرېز خلاف مزاحمت څرګند کړے دے، دغه پس منظر کښې چې ښاغلے ډاکټر یار محمد مغموم خټک د دیني شاعر ملا نجم الدین د انګرېز خلاف لیکلې شوې یوه چاربېته پېش کوي نو بیا خپله تبصره کښې د اسلام او پښتني غېرت ګډ

احساس ته هم اشاره کوي د دغه چاربېتې يو بند داسې دے:

"غېرت د خداى په دين کا، پرې به نۀ ږدي يو کافر
که ئې شي لاس وربانـدې بر، ورك به کا د کافر نام
غوبل شو د انګرېز د چمرکنډ په تورو غرو کښې
د غرونو په سرو کښې، لار نۀ شته د ګرېز"(4)

او بيا خپله تبصره کښې ډاکټر مغموم خټك صاحب د خپلو خيالاتو اظهار په دې ډول کوي:

"په دې چاربېته کښې هم ډېر زور په مذهبي عقائدو ورکړے شوے دے، او دا ځکه چې پښتانۀ مذهب او پښتو له يو بله بېل نۀ ګڼي، دوي د مذهب نګراني يو طرف ته لويه ديني فريضه ګڼي نو بل طرف ته ئې لويه پښتونولي هم ګڼي، اولسي شاعري تر ډېره حده د مذهبي افکارو هينداره پېش کوي او هر چرته چې مذهبي افکارو شديد رنګ اختيار کړے دے او شاه زلمي ئې د غزا مېدان ته رسولي دي، نو شاعري هم ورسره سمه د غزا مېدان ته تللې ده او د تورې هر ګزار او د ټوپك هر ډز ئې د نژدې نه ليدلے او سنبهال کړے دے، زمونږ د اولسي رزميه شاعرۍ اکثره برخه په چاربېتو مشتمله ده، ځکه چې چاربېته د رزميه خيالاتو دپاره موزون او غوره صنف دے، او د رجزيه او جذباتي انداز ګنجائش په کښې د شاعرۍ د نورو صنفونو په نسبت زيات دے"(5).

د دغه اسلامي او پښتني نمائنده ملي جذبې لاندې په زيات شمېر کښې چاربېتې په جنګي او جهادي موضوعاتو ليکلې شوې دي چې په کښې عموماً د پښتو جنګي اتلانو مجاهدانه کردار هم جوت کړے شوے دے او د پښتون اولس د ملي جذبې تصوير کشي هم شوې ده. دغه قسمه چاربېتې همېش خليل صاحب په خپل اردو کتاب "جنګي چاربيتې" کښې را غونډې کړې او د خپلې تبصرې سره ئې چاپ کړې دي، د دغه کتاب نه علاوه هم د همېش خليل په دوو نورو کتابونو "د چاربېتې پخواني شاعران" او "د چاربېتې اوسني شاعران" کښې د قومي او ملي شعور نمائنده چاربېتې شته چې دلته ئې مونږ لنډ جاج اخلو، خو د دغه جاج نه وړاندې د يوې خبرې وضاحت هم ضروري دے، مونږ چې وړاندې د ډاکټر مغموم خټك په حواله وئيلي دي چې د پښتنو په سيمه او ټول برصغير د سکهانو د حکمرانۍ په دوره کښې د پښتو اولسي شاعرۍ او په خصوصي توګه چاربېته د ملي او قامي احساساتو نه عاري ده، ځکه ئې په زور او شدت کښې هم کمے په نظر راځي، نو بايد چې دا واضحه وي

چې په عمومي توګه خو دا خبره درسته ده خو ولې بیا هم د سکهانو خلاف د پښتون اولس د مزاحمت نمائنده چاربېتې په لړ شمېر کښې به ضرور وي خو نمونې ئې بیا هم شته چې په دغو شاعرانو کښې د چاربېتې یو نمائنده شاعر مویزے هم دے چا چې د سکهانو خلاف د جنګي غزاګانو او پښتنو اتلانو حالات په خپلو چاربېتو کښې بیان کړي دي، مویزي د نوښار د جنګ حالات په خپله یوه چاربېته کښې بیان کړے دے چې د پیر سباك جنګ هم ورته وئیلے شي او دغه جنګ په اصل کښې د رنجیت سنګهـ خلاف د پښتنو قبیلو په خصوصي توګه یوسفزو او خټکو کړے ؤ چې د اسلامي جذبې سره سره په کښې ملي جذبه هم شامله وه۔ همېش خلیل صاحب په خپل اردو کتاب "جنګي چاربیتې" کښې داسې لیکلي دي:

"یہ جنگ سردار عظیم خان بارکزئے اور رنجیت سنگھ کے درمیان 14 مارچ 1823ء میں نوشہرہ کے مقام (موضع پیر سباق) پر ہوئی، جو غزائے پیر سباق یا غزائے نوشہرہ کے نام سے مشہور ہے۔

اس غزا کے لئے سردار عظیم خان نے پشتون قبائل سے تعاون کی درخواست کی تھی اور سکھوں کے خلاف جہاد میں شرکت کی دعوت دی تھی، کیونکہ صرف عظیم خان کی فوج سکھوں کے مقابلے کی نہیں تھی، چنانچہ یوسفزئی، خٹک اور وادئی پشاور کے دیگر قبائل سکھوں کے خلاف جہاد کے لئے تیار ہوگئے، پشتون قبائل کا لشکر جس کی تعداد بیس ہزار کے قریب تھی۔ سید اکبر شاہ کی کمان میں پیر سباق کے مقام پر مورچہ زن تھا"(6)۔

مویزي د دغه جنګ عکاسي چې په کومه چاربېته کښې کړې ده ورومبے او اخري بند ئې دلته وړاندې کولے شي:

"قاصد د بادشاه راغے یوسفزي ولړزېدۀ
په نیت د غزا لاړ شۀ په نوښار ورژېدۀ
قاصد بادشاه راغے را لېږلے عظیم خان
د اوله ئې جرګه کړل ملایان او ملکان
دارو ګولۍ په ما دي در کوم به خرڅ تاوان
الفاظ ئې خوږ شکر وو په هر چا ښۀ لګېدۀ
صفت د یوسفزو کوم چې قتل ئې کړ خان
په مخکښې ئې تمام شو پیر، ملا او صاحبزادګان
په درزخ کښې به کفار وي په جنت کښې مومنان

هر بېت د موېزي لکه مرجان بيه کېدۀ"(7)

د دې دور د چاربېتو په حقله پروفېسر محمد نواز طائر هم دغه رائې لري چې د سکهانو په دور کښې په پښتو ادب کښې چاربېتې نۀ يواځې پرمختګ کړے دے بلکې د ملت پالنې د وظيفې سره سره ئې د پښتون اولس ټولنې او ماحول نور ګڼ شمېر کلتوري او ټولنيز موضوعات هم په خپله لمن کښې را نغاړلي دي، دا هم دغه د سکهانو دور ؤ چې نواز طائر ئې د پښتني ماحول او پښتو چاربېتې په تناظر کښې وضاحت کوي او ليکي:

"په دې دوران کښې په پنجاب، کشمير او پېښور د سکهانو بالادستي قائمه شوې وه او د هغو جبر و تشدد د دې سيمې خلق داسې تر پوزو راوستي وو چې دا ظالم راج لاتراوسه په سکه شاهي شهرت لري۔ سکه شاهي په پېښور باندې يو څو کاله مسلطه وه او په دې ټوله زمانه کښې د دې خلاف د پښتنو جدوجهد جاري ؤ۔ ډېر جنګونه، جهادونه په دغه څو کاله کښې د سيکانو خلاف پښتنو غازيانو کړي دي، د جنګ او غزا د دې عملي جدوجهد په غرض د خلقو د را پارولو مؤثر ثابت شو، هغه عوامي سندرې او چاربېتې وې چې په حجرو، دېرو او چوکونو کښې به اخونانو شاعرانو او سندر غاړو ويلې، قومي ننګ، توره، مېړانه، پښتونواله او د اسلام دپاره د قربانۍ ورکولو جذبه او د غيرو د غلامۍ نه د ازادۍ حاصلولو دپاره عملي جدوجهد د دې سندرو او چاربېتو اصل موضوعات وو"(8)۔

د چاربېتې شاعر موېزي کومه يادونه چې وشوه، د هغۀ د پير سباك د جنګ په ترجمانۍ مشتمله چاربېته د دغه ملت پالنې د شعور باقاعده ابتدا ده چې وروستو دغه روايت پاللے شوے دے او نورو ګڼ شمېر چاربېتې شاعرانو دا روايت مخ په وړاندې بوتلے دے چې په پښتنه خاوره د ديني جذبې سره سره ملي شعور او قامي تحريکونو ته هم اشاره کوي۔ پروفېسر نواز طائر دغه پس منظر داسې څرګندوي:

"د اولسي سندرو دا دور چې د حريت او ازادۍ ارزوګانو په کښې غزونې کولې او دېره په دېره ئې د قومي استقلال او همت د را بېدارولو دپاره د عملي پروپېګنډې کار ورکوو، د پير سباك د غزا نه پس شروع شوے دے چې موېزي شاعر ورته د ډېرو غزا وئيلې ده، د دې دور شاعرانو او اخونانو د خپل اولس د را بېدارول او د هغوئ کارنامې ستائل لکه خپله يوه قومي او مذهبي فريضه ګڼله، دا په دې چې د اسلام د را خورېدو نه را په دې خوا سوونه کاله پس په اول ځل په پښتونخوا باندې د کفر د تېرو د را خورېدو خطره پېښه شوې

وه، د دې سيمې خلقو د خپل اوږد تاريخ په هره زمانه کښې د فاتحانو په حېث نور قومونه او ملکونه همېش دپاره فتح کړي وو، د دوي دپاره دا يوه بېخي نااشنا خبره وه، د دوي د فخر شملې او د سر لوړې دستارونه په خطره کښې وو، دغه سبب ؤ چې د حساس طبعيت خاوندانو، شاعرانو، اخونانو او ملايانو دوي ته د دوي فرض او په اولسونو او قومونو کښې د دوي مقام په ګوته کولو دپاره د شعر دا مېدان غوره کړو"(9).

په ورومبي نظر د پښتو چاربېته کښې دغه ديني تاثر د جهادي او اسلامي جذبې نتيجه ښکاري خو دا بايد په نظر کښې وساتل شي چې دغه ديني او جهادي جذبې نه علاوه هم د پښتون اولس د حريت پسندۍ جذبه د دغه اولس د کلتوري ژوند برخه ده، پښتانۀ که د دين او اسلام په نوم ننګ کوي نو ورسره د پښتني غېرت د اثر لاندې هم د غلامانه ژوند نه نفرت کوي او دغسې ديني او اسلامي جذبه هم د پښتنو د ملي غېرت برخه جوړېږي چې اظهار ئې د پښتو چاربېتو کښې ځاے په ځاے شوے دے.

د پښتو چاربېتو په دغه ابتدائي دور کښې چې د ديني او قامي جذبې په تاثر کښې کومې چاربېتې ليکلې شوې دي هغې کښې يو شمېر داسې هم دي چې د سکهانو او انګرېزانو خلاف د سيد احمد شهيد د تحريك المجاهدين په مرسته کښې دي، دې لړ کښې د نور الدين، احمد ګل او ځيني نورو د ړومبي دور شاعرانو ليکلې دي چې د دغه تحريك د نوميالو پښتنو مجاهدانو، غازيانو، شهيدانو د کردار ځرګندونه هم په کښې شوې ده او د پښتون ملت د غېرت او ځوانمردۍ نخښې هم په کښې ځرګندې شوې دي، مونږ د دغو چاربېتو د نمونو پېش کولو نه تېرېږو البته دومره قدر اشاره ضرور کوو چې په دغو چاربېتو کښې پښتنو اتلانو کښې د ارباب فيض الله خان مومند، امير دوست محمد خان، غازي دلاسه خان، سراج او ځينو نورو پښتنو اتلانو د غازيانو کردار تصويرکشي د چاربېتې په فني پېرايه کښې شوې ده چې د پښتون ملت د جنګي تاريخ برخه هم ده، دغو پښتنو غازيانو کښې يو د جندول عمرا خان هم دے چې ګڼ شمېر چاربېتي شاعرانو په خپلو چاربېتو کښې د هغۀ پښتني غيرت او غازيانه ځوانمردي ستائيلې ده. غازي عمرا خان د جندول د انګرېز خلاف په ګڼو جنګي معرکو کښې برخه اخستې وه چې يوه غزا په کښې داسې هم وه چې د انګرېز په لمسه د انګرېز وفادار ميا رحيم شاه عمرا خان د باجوړ جنګ ته په دې غرض تيار کړے ؤ چې د انګرېز د سازش ښکار شي، دغه پس منظر پائنده خان نومې شاعر په خپله چاربېته "غزا د عمرا خان" کښې قلم بند کړے دے چې ورومبۍ برخه ئې په دې ډول ده:

"غزا د باجوړ غازي عمرا خان ته
دا واړه شرارت په کښې د میا رحیم بسیار
په لمسه د سرکار

غزا وه زما وروره کارونه د رب ګوره
خلاصے ئې زر و نهٔ شو چې خبره شوله زیاته
غازي عمرا خان ته

زیاتې شوله خبره، غوږ کېده برادره
فوځونه عالمونه ډېر غازیان شولو تیار
په لمسه د سرکار

تیار شولو فوځونه، بې شانه عالمونه
حاضر شولو دي خان چې ته حکم کوې چا ته
غازي عمرا خان ته"(10)۔

دې لړ کښې د انګریز خلاف د بونېر او ملاکنډ په جنګ کښې ګڼ شمېر چاربېتې لیکلې شوې دي چې د طوالت له وېرې ئې مثالونه او تفصیلات پیش کول ګران دي، البته د ځینو چاربېتو مثالونه پیش کول ضروري دي چې د جنګ او جهاد د جذبې د ترجمانۍ په وخت هم پښتو، پښتون، قامیت او ملت ته په کښې واضحې اشارې شوې دي، هم دغه جنګي چاربېتو کښې چې د پښتو د ځوانمردۍ کوم تاثر وړاندې شوے دے او د ملت پالنې د احساس څرګندونه شوې ده، څو نمونې ئې وګورئ۔ بابائې چاربېته عبد الواحد ټهېکدار په یوه زنځیرۍ چاربېته کښې په لاهور او پښتنو سیمو په لاهور او پښتنو سیمو د هندوانو د یرغل تاثر چې په چاربېته کښې پېش کوي نو د پښتني جذبې څرګندونه په داسې انداز کوي:

"متل د پښتنو دے، لیکلے په معنو دے
اوبهٔ کله بېلېږي په ډانګونو د طوفا
غوبل شو ناګهان

یو موټے یو ایمان، ساتي به را نه ځانه

خوبونه مو بس کړي د نوارو په پالنګ
بې تېمه راغې جنګ
نمسو کښې د خالد يو، د توري مجاهد يو
بدل د پېښور به درنه اخلمه په تراټ
ويتشو چې دي کوهاټ
پارولې دي مچۍ دي، په وير کښې دي مچۍ دي
جنډې به دې کوزومه نن سبا د هندوستانه
غوبل شو ناګهانه"(11)

د چاربېتې نوميالې شاعر ملتان غمګين په يوه چاربېته کښې د پښتنو نمائنده سياسي ګوند خدايي خدمتګار په غړو د 23 اپرېل 1030ء هغه واقعې ته اشاره کوي چې انګرېز د قامي تحريك په غړو ګولۍ چلولې وې، هغه وايي:

"دپاره د دولت، پښتون ئې کړو لت پت
بچوړي د چرچل وو، پښتنو ته په کينه کښې
بازار قصه خانه کښې

که خان ؤ که نواب ؤ، هر يو د قوم قصاب ؤ
په مرسته د پښتون تيراه نه راغلۀ افريدون
جنګ جوړ شو ناګهان
هم په مرسته د پښتون ؤ، بچي د افلاطون
ګولۍ ئې سړولې ګورګانو په سينه کښې
بازار قيصه خانه کښې
بيان مې مختصر کړو، عالم مې ټول خبر کړو
جګړه ده د سن تيس ملتان ښکاره کا دا زمان
جنګ جوړ شو ناګهان"(12)

مقدر شاه ميا کاکاخېل په خپلو ګڼو چاربېتو کښې د پښتني غيرت او پښتني جذبې څرګندونه کړې ده چې دلته ئې د يوې چاربېتې څو بندونه وړاندې کولې شي. هغه وايي:

"هـــر دښـــمن مقـــابلې نـــه لـــه مـــونږ ښنـــګ کـــړے دے
مـــونږه پېژنـــــي چـــې ولـــــولي تــــاريخ د پښـــــتون
توريـــالي دي چـــې ئـــې کـــوم پلـــه غورځنـــګ کـــړے دے
مـــؤرخ بـــه درتـــه ښـــۀ وکـــړي تشـــريح د پښـــتون
د ظـــالم ســـره مـــو حـــق دپـــاره جنـــګ کـــړے دے
د دوســـــتانو ســـره وي ســـلوك صـــريح د پښـــتون
زړۀ نـــــۀ ده پـــدري تـــوره ســـمبال ده زمـــا
هـــر ســـتم د زمـــانې تـــه ســـينه ډال ده زمـــا
پښـــتنه تـــوره پـــه لاس کښـــې پـــه خيبـــر يـــم ولاړ
طوفانونـــــه دي راځـــــي لکـــــه د غـــــر يـــــم ولاړ
ميراثـــه کښـــې راتـــه پـــاتې دے غيـــرت د پښـــتو
انقـــلاب د زمـــانې تـــه کلـــه ســـر ټيټـــوم
راتـــه ګـــران دے د هرڅـــۀ نـــه خپـــل عـــزت د پښـــتو
زۀ مغـــــروره طاقتونـــــه پـــه خنجـــر ټيټـــوم
ګرانـــې تـــولې شـــي اســـانې پـــه همـــت د پښـــتو
زۀ شـــرکش کلـــه منمـــه ســـکندر ټيټـــوم"(13)

د دغه چاربېتې په اخري بند کښې د پښتني غېرت، د پښتنې وينې غورځنګ، د پښتني ملت او قام د ټولو نه غټه اساسي نخښه ګڼي او د پښتونولۍ هغه روايت ته هم اشاره کوي چې د خپلې خاورې په ساتنه کښې د تل د خپل سره تېروي، داسې ګويا دے:

"پـــه رګ رګ کښـــې زمـــا ګرمـــه د خپـــل قـــام وينـــه ده
د پښـــتون د پښـــتونوالي روايـــت خوښـــوم
نـــۀ ســـړيږي پـــه هـــر حـــال کښـــې د اســـلام وينـــه ده
زۀ ژونـــدون د غلامـــۍ نـــه شـــهادت خوښـــوم
مـــونږ تـــوئې کـــړې د دښـــمن پـــه انتقـــام وينـــه ده
ســـر د فخـــر خپـــل دنيـــا کښـــې تـــل اوچـــت خوښـــوم
د هـــر ظلـــم بدلـــه ګـــورې پـــه خيـــال ده زمـــا

هـــــر ســـــتم د زمـــــانې تـــــه ســـــينه ډال ده زمـــــا
د دې وخـــــت پـــــه انتظـــــار کښې مقـــــدر يـــــم ولاړ
طوفانونـــــه دي راځـــــي لکـــــه د غـــــر يـــــم ولاړ "(14)

د کرك د لتمر سيمې نوميالي اولسي شاعر سيد حسن استاذ په خپله يوه چاربېته کښې د پښتنو قامي يووالي ته اشاره کوي او د ملت پالنې درس ورکوي وايي:

"چا وې چې ليونے دے
چا وې چې مېړنے دے
د دوي په اتفاق دې افرين وي دل و جانه
قيصه وه ډېره ګرانه
د قوم چې اتفاق وي
د غم نه دې بېباك وي
هر خوا ته به ئې بليږي مشالونه بې له تېلو
هر ټال د بهادر خپلو"(15)

دې لړ کښې د افغانستان شاعران د ملت پالنې د احساس ځرګندونه کوي نو پښتني غېرت ته د افغاني ننګ نوم ورکوي، افغان شاعر قيام الدين خادم په خپله يوه چاربېته کښې د ځينو پښتنو قبيلو د مزاحمتي روئيو په ضمن کښې د هغوئ ځوانمردۍ ته اشاره کوي او د افغاني غېرت ترجماني په يوه چاربېته کښې داسې کوي:

"پېـــــرنګے راغـــــے پـــــه ګنـــــداؤ کـــــوي جنګونـــــه
مخـــــې لـــــه درومـــــي د ســـــرحد واړه فوځونـــــه
دا ټولـــــه ورځـــــې چـــــې ژړيـــــږي مســـــلمان دے
کـــــه وزيـــــر کـــــه افرېـــــدے دے تـــــول افغـــــان دے
پـــــه مليـــــزو او بـــــالاڑو کښـــــې نـــــن ســـــوران دے
چـــــې ورتـــــه ګـــــورم زړۀ مـــــې ســـــوځي پـــــه اورونـــــه
نـــــن هغـــــه حشـــــر دے جـــــوړ شـــــوے پـــــه افغـــــان
پيـــــرنګے راغـــــے پـــــه ګنـــــداؤ شـــــو را عيـــــان"(16)

په دغه چاربېته کښې قيام الدين خادم په پښتنو قبيلو کښې د کوډاخېلو خويزو

او حليمزو د ځوانمردۍ ستائينه هم کړې ده چې د هغۀ د پښتني غېرت غمازي کوي او بيا د چاربېتې په وروستي بند کښې د دغو ټولو قبيلو ملي وحدت د پښتون په نوم يادوي او بهادري او ځوانمردي ئې په دې ټکو ستائي:

"نـــن کـــافر وړے پـــه خپـــل کـــار کښـــې خجالـــت دے
بيــــا د پښـــتون نامــــه بــــه نــــا اخلي پــــه کلونــــه
خادمـــه! ښــــۀ دے دا بيـــان چـــې اوس اظهـــار شـــي
پــــه اشــــتهار د مجاهـــــد کښـــې انتشــــار شـــي
امېــد مـــې دا دے چـــې پښـــتون تـــه بـــه پـــه کـــار شـــي
چـــې مســـلمان وي پـــرې بـــه وباســـي شــــکرونه"(17)

د سکهانو د دور نه تر خدائي خدمتګار تحريك تر دوره او بيا د افغان شاعر قيام الدين خادم پورې د پښتو چاربېتې دغه قامي رنګ په هره حواله جوت دے چې ډاکټر راج ولي شاه ختك ورسره د پښتو چاربېتې شاعرانو يوې دوېمې فني زائې ته هم اشاره کوي چې دغه فني زاويه د پښتو د چاربېتې شاعرانو د سوال او جواب او شعري مقابلو زاويه ده چې دا په خپله د چاربېتې شاعرانو پښتني فطرت او مزاج ته اشاره کوي، ډاکټر راج ولي شاه ختك دې لړ کښې داسې ليکي:

"د چاربېتې نوے فني صورت د سيکانو د دورې نه را په دې خوا ډېر مقبول شو، په دغه عمر کښې چې کوم ادبي تحريك د چاربېتې د صنف په شکل کښې شروع شوے دے، په هغې دوه ژور اثرونه يو د قامي تحريکاتو او د غزاګانو دے او بل د عوامي شاعرانو تر مينځه د بيت بازۍ اثر دے، چې شاعرانو به د يو بل جواب په چاربېته کښې کولو"(18).

"ډاکټر يار محمد مغموم ختك هم د پښتو چاربېتې د سکهانو د دور نه تر 1947ء يعني برصغير د وېش پورې دورې ته د پښتني ملت پالنې او قامي تحريکونو د ټولنيز او سياسي اثراتو په تناظر کښې کتلې دي او ورسره ئې د علي حېدر په نوم د يو شاعر چاربېته هم د نمونې په توګه پېش کړې ده، د علي حېدر د چاربېتې څو بندونه او د ډاکټر يار محمد مغموم تبصره په دې ډول ده:

"د اولسي شاعرۍ دا سلسله چې د چاربېتو په شکل کښې تر کال 1947ء را ورسېده نو چاربېتې نوے رنګ اختيار کړۀ، په دغه دور کښې د پښتون د اتحاد او اتفاق

شديد ضرورت ۇ او ځکه د رحړو علي حېدر خپل پښتون ورور ته په دې ټکو کښې خپل تاثرات بيانوي او هغۀ ته د اتحاد درس ورکوي:

دښـــمن تـــه ټينـــګ شـــه بـــې ګنـــاه حملـــه پـــه ورور مـــه کـــوه
دا ظلـــم زور مـــــه کـــــوه، نـــــوم بـــــه دې ســـــپك شـــــي

دښـــمن تـــــه ځـــو غـــاړه پـــــه غـــاړه ضـــرور
راځـــــه چـــــې يـــــو شـــــو ســـــره دواړه ضـــــرور
بيـــا چـــې ځـــۀ غـــواړې هغـــه غـــواړه ضـــرور
د اتفـــاق تـــوره را واخلـــه هســـې شـــور مـــه کـــوه
دا ظلـــم زور مـــــه کـــــوه، نـــــوم بـــــه دې ســـــپك شـــــي

د اتفـــــــاق تـــــــوره مېـــــــدان ګټـــــــي
ســـــرمايه دار بـــــــه انګرېـــــــزان ګټـــــــي
فخـــــر افغـــــان غريبانـــــان ګټـــــي
ملـــك بـــه ازادي کـــړي د غـــلام يقـــين پـــرې نـــور مـــه کـــوه
دا ظلـــم زور مـــــه کـــــوه، نـــــوم بـــــه دې ســـــپك شـــــي

قســـم خـــــوړلے دے افغـــــان داســـــې
کـــه غـــلام مـــړ شـــوم پـــه جهـــان داســـې
پـــه شـــنو خـــزو مـــې کـــړئ ارمـــان داســـې
لاړې پـــرې تـــو کـــړئ بيـــا هيلـــه زمـــا پـــه ګـــور مـــه کـــوه
دا ظلـــم زور مـــــه کـــــوه، نـــــوم بـــــه دې ســـــپك شـــــي"(19)

دا هغه پس منظر او د پښتو چاربېتې ارتقائي صورت حال دے چې چاربېتې شاعرانو عموماً د پښتنو په سيمه د جنګونو او غزاګانو ترجماني په خپلو چاربېتو کښې کړې ده او لکه چې وضاحت ئې شوے دے چې دغه چاربېتې په عمومي ډول د سکهانو او انګريزانو خلاف د ديني جذبې تر سيوري لاندې د شويو جنګونو او غزاګانو حال را مخې ته کوي خو د ديني جذبې سره سره د پښتني غېرت او ملت پالنې احساس ئې هم د ذکر شوې ديني جذبې سره داسې يو ځاے کړے دے، ځنګه چې پښتونولي د اسلام سره او پښتون د

مسلمان سره نژدې، کلك او نۀ بېلېدونکے تړون لري، پښتون شاعر پښتو او اسلام داسې يو ګڼي چې تر مينځه ئې هيڅ فرق نۀ کوي، څنګه چې جنګ او جهاد د اسلام په نوم کيږي، پښتون ئې د پښتو په نوم هم کوي۔

زړۀ را ښکونکې او د غور خبره دا ده چې د اسلام، جهاد او حريت پسندۍ کوم تاثر د پښتني غيرت او وقار په نوم د پښتو په ابتدائي چاربېتو کښې په کوم شدت او جذبه موجود دے هغه د نوي دور د شلمې صدۍ د جديدو شاعرانو په چاربېتو کښې هم هغسې په غورځنګ دے او د جديد دور چاربېتي شاعران هم د ازادۍ او ځوانمردۍ احساسات نژدې نژدې هم هغه اسلوب او جذباتي کيفيت سره بيانوي کوم چې د سکهه دور په چاربېتو کښې د پښتون اولس د ملت پالنې احساس را مخې ته کوي۔

زمونږ د عصر د پښتو جديد شاعر پير ګوهر چې په شاعر امن مشهور دے خو هغه چې کله د پښتو او پښتني غېرت خبره کوي نو بيا د خپلو اسلافو په جنګي کارنامو فخر کوي، دا هم ياد ساتل په کار دي چې د پښتنو اتلانو دغه جنګي کارنامې چې پير ګوهر ورته اشاره کوي، د کومې اسلامي او ديني جذبې تر سيوري لاندې نۀ دي تر سره شوې بلکې د خالص ملي ننګ او پښتني غېرت په جذبه تر سره شوې دي، پير ګوهر چې د امن پېغام ورکوي نو د نظم په هيئت کښې ئې ورکوي خو چې د خپلو پښتنو اسلافو د پښتني ننګ او مېړانې ياد تازه کوي نو د چاربېتې په صنف کښې ئې يادونه کوي، هغه په يوه چاربېته کښې داسې وايي:

"د خېبــــــر غرونـــــــه هېــــــرولے نـــــــۀ شـــــــم
د احمـــــــــد شـــــــاه بابـــــا نمســـــــے يمـــــــه زه
پـــــــه تـــــاتره دښـــــــمن زغملــــــے نـــــۀ شـــــم
لکـــــــه ابمـــــــل بـــــــه ورپســـــــې يمـــــــه زۀ
پـــــردے اختيـــــار پـــــه ځـــــان مـــــنلے نـــــۀ شـــــم
د خوشـــــــحال خـــــــان د لاس غمـــــــے يمـــــــه زۀ
داســـــې مـــــې جنـــــګ پـــــه پـــــاني پـــــت کـــــړے دے
ســـــام مـــــې دے درونـــــد پـــــه مرهټـــــو بانـــــدې
د ټکـــــــر خــــــاورې لاګـــــــواه دي زمـــــــا

غلبېل سينې په مشين ګنج باندې
ښکلې زلمي مړهٔ بېګناه دي زما
لکه ګړه زار چې وي په جنج باندې
قصه خانه کښې هم تباه دي زما
سرونه ئې داؤ کړل په شطرنج باندې
مونږه د خپل چمن عزت کړے دے
لکه منصور خېژو رسو باندې"(20)

د هم دغه چاربېتې په يو بند کښې د خپلې پښتو نه خپل سر قربانوي او د پښتنې غېرت ياد د ملت پالنې د سيورې لاندې داسې تازه کوي:

"سر به مې زار شي په وطن باندې
قسم په خداى که مې پښتو لاړه شي
لا به شم تندر په دښمن باندې
که کهجوری له افریدو لاړه شي
يمه ژوندے د جنګ په فن باندې
خاوره به خنګه له ژوندو لاړه شي
دښمن له ما همېش هيبت کړے دے
لاس راته تل ږدي په تندو باندې"(21)

په پښتو چاربېته کښې د ملت پالنې د څرك په لټون خبره د خالص پښتني سياسي شعور پورې هم را رسي تر دې چې د بېخي تازه او موجوده سياسي مسئلو څرك هم په پښتو چاربېته کښې په نظر راځي، د محمد عزيز ساجد په نوم پښتون شاعر د کالاباغ ډېم په سياسي تنازعه هم چاربېته ليکلې ده، د دغه چاربېتې وړومبۍ برخه په دې ډول ده:

"وطن د پښتنو به غرقېدو ته نهٔ پرېږدو
په ډېم د کالاباغ کښې تباهي د پښتنو ده
په ډېم د کالاباغ کښې سراسر زمونږ تاوان دے
ښکاره دغه بيان دے
جوړ شوے پښتونخوا باندې زمونږه چور تالان دے

هر خوا ته زوړ سوران دے
د دې خاورې د هر بچي په خولهٔ دغه بيان دے
په غرهٔ که په دامان دے
دا ډيـــم د کالاباغ بـــه جوړيـــدو و تـــه نــهٔ پرېـــږدو
وطـــن د پښتـــنو بـــه غرقيـــدو و تـــه نــهٔ پرېـــږدو
را جـــوړه ســـاز شـــي شـــان منصـــوبه د لېونـــو ده
پـــه ډيـــم د کالابـــاغ کښـــې تبـــاهي د پښتـــنو ده"(22)

د کالاباغ ډيم مسئله د پښتنو د سياسيت قامي ګوند عوامي نېشنل پارټۍ د خپل قامي سياست يوه بنيادي کړۍ ګرځولې ده چې تر ننه ئې په دغه بنياد خپل سياست متحرك ساتلے دے، د دغه پارټۍ وړومبے سر د باچاخان د خدائي خدمتګار تحريك ته رسي چې په ابتدا کښې ئې د انجمن اصلاح الافاغنه په نوم په پښتون ملت کښې د تعليم او اصلاح وظيفه ترسره کوله او بيا وروستو چې د خدائي خدمتګار تحريك په نوم ئې د برصغير په سياست کښې فعال کردار ادا کولو نو دغه تحريك سره ګڼ شمېر قامي شاعران هم تړلي وو، د دغه تحريك او ورسره وابسته شاعرانو د شاعرۍ په ګڼو موضوعاتو کښې يوه غټه موضوع د ازادۍ په شمع قربانېدل او د غلامۍ نه نفرت ؤ، د دې قسمه ملي جذباتو اظهار دغو قامي شاعرانو عموماً د جديد نظم په چوکاټ کښې کولو خو ځنو شاعرانو دغه ترجماني د چاربېتې په صنف کښې هم کړې ده، لکه چې په وړاندې بحث کښې د چاربېتې د نمائنده شاعر ملتان غمګين يوه چاربېته د قيصه خوانۍ د 23 اپرېل 1930ء په واقعه د نمونې په توګه وړاندې کړے شوې ده، دلته د ستر قامي شاعر عبد المالك فدا د يوې چاربېتې څهٔ برخه په دې غرض پېش کولے شي چې په کښې ئې د پښتني ملي احساساتو د ځرګندونې په موقع د ازادۍ سره مينه او د غلامۍ نه د نفرت اظهار هم کړے دے، يو بند ئې وګورئ:

"زهٔ لېـــونے د قـــام پـــه ننـــګ يمـــه
د غلامـــۍ پـــه ژونـــدون تنـــګ يمـــه
پـــه ازادۍ پســـې ملنـــګ يمـــه
پښـــتون لـــه تخـــت ځـــان لـــه د دار هغـــه تختـــۍ ګټمـــه
مـــاتې پوښـــتۍ ګټمـــه، د باچاخـــان

نـــــــۀ دي مـــــــــين پـــــــه وزارت يـــــــم
نـــــــۀ دي محتاجــــــــه د دولـــــــــت يـــــــم
نـــــــۀ دي پـــــــه طمــــــع د عـــــــزت يـــــــم
زۀ غريــــــب قـــــام لـــــه اوربشــــينه چپــــاتی ګټمـــــه
مـــــاتې پوښـــــــتی ګټمــــــه، د باچـــــا خـــــان"(23)

پښتو چاربېته کښې د دغه سياسي شعور په نتيجه کښې چې کومو شاعرانو د ازادۍ نغمې وئيلې دي او د غلامۍ د نفرت اظهار ئې کړے دے، دغه اظهار د عمومي پښتو شاعرۍ احاطه هم کوي چې د ابتدا نه تر دې دمه ئې ځرګندونه د غزل او نظم په مختلفو شکلونو او هيئتونو کښې شوې ده خو کله چې مونږ په خصوصي توګه د چاربېتې جائزه اخلو نو بيا دغه تاثر عموماً د خدائي خدمتګار د قامي اصلاحي او سياسي تحريك د سيورې لاندې جوت ښکاري، د هم دغه سياسي تاثر لاندې ځنو شاعرانو د پښتو ژبې د بقا او ارتقاء خبره هم په منظوم ډول کړې ده او د دې موضوع د ګڼو زاوئيو احاطه ئې هم په بشپړه توګه کړې ده۔

په پښتو چاربېته کښې د قامي شعور او ملت پالنې که تفصيلي مطالعه وکړے شي نو ګڼ شمېر کښې داسې چاربېتې په مختلفو دورونو کښې ليکلې شوې دي چې د پښتو، پښتونولۍ او عمومي ملي احساس د ګڼو زاوئيو ترجماني کوي، ممکنه ده چې د سکهانو د دور نه وړاندې هم پښتو کښې چاربېتې ليکلې شوې وي خو د معلومو تحريري موادو تر مخه مونږ ته د چاربېتو دستياب نمونې د سکهانو د دور نه په نظر راځي چې وروستو بيا د انګرېز دور کښې ئې ارتقاء موندلې ده، د جديدو قامي تحريکونو په خصوصي توګه د خدائي خدمتګار تحريك او برصغير کښې د ازادۍ د مختلفو دورونو ئې لړۍ را رسي، د چاربېتو په دغو ادوارو کښې يو دور داسې هم شته چې چاربېتې او اولسي شاعرانو د خپلې قامي فريضې او ملي احساس د ترجمانۍ نه ځان ژغورلے وي، مونږ ته په هر دور کښې د پښتو داسې چاربېتې په نظر راځي چې په کښې د پښتون اولس د غېرت او ننګ داستانونه بيان شوي دي، د پښتو او اسلام د ګډون او امتزاج رنګ په کښې پېش شوے دے، د پښتنو د عملي جدوجهد، جنګونو او غزاګانو تذکرې په کښې شوې دي، د پښتنو کلتوري اقدار په کښې ځرګند کړے شوي دي، د پښتون اولس د حريت پسندۍ جذبات او

غلامۍ د تصور نه نفرت په کښې جوت کړے شوے دے، د پښتون اولس د سياسي شعور بازگشت په کښې محسوس کړے شوے دے، د پښتنو د ټولنيز شعور او فکري دانش اظهار په کښې شوے دے، د پښتو ژبې د بقا او ارتقاء خواهش او اظهار په کښې څرګند کړے شوے دے او په مجموعي توګه د پښتون اولس د ملي اقدارو د تحفظ خبره په کښې شوې ده ـ دا هغه خصوصيات دي چې بنيادي سرد ئې د ملت پالنې فطري احساس دے چې د چاربېتې شاعرانو ډېر په شدت سره خپله شاعرۍ او چاربېتو کښې وړاندې کړے دے، ځکه مونږ وئيلے شو چې د ملت پالنې عکس چې د پښتو اولسي شاعرۍ په کومو صنفونو کښې ليدے شي، پښتو چاربېته په هغه کښې په وړومبي سر کښې د خپل فعال کردار سره خپل وجود ښايي هم او برقرار ئې هم ساتي او دغسې پښتو چاربېته چې د پښتون اولس د اجتماعي شعور او کلتوري اقدارو د يو غېر متنازعه تاريخ په حېث را مخې ته کيږي نو په خصوصيت سره د پښتون اولس د ملي شناخت او ملت پالنې د يو کوټلي تاريخي حېثيت سره هم زمونږ لاربښودنه کولے شي ـ د پښتو چاربېتې دغه معنوي او موضوعاتي ځانګړتيا مونږ ته دا احساس هم راکوي چې د پښتو اولسي اصناف هر څومره تر الېکټرانك مېډيا او نورو يلغارونو له وجې خپل رنګ او اهنګ تت هم کړے خو ولې پښتو چاربېته په هر دور او هر قسمه حالاتو کښې خپل ځان او وجود ژوندے ساتي ـ ځکه چې تر څو د پښتنو کلتوري او ملي شناخت ژوندے وي تر هغې به دغه د کلتور او ملت ترجمان صنف هم ژوندے وي ـ

**References:**


- Khattak, Raj Wali Shah Doctor, Da Pashto Adabi Tehreekona, Pashto Academy Peshawar University, 1989, Makh 439
- Maghmoom, Khattak , Yar Muhammad, Professor, Doctor , Da Azadai Tehreek ao Pashto shayeri, University Book Agency Peshawar , Mayee, 2007, Makh 53
- Hum dagha, Makh 56
- Hum dagha Makh 75
- Hum dagha Makh 75, 76
- Khalil, Hamaish, Jangi Charbaitay , Pashto Academy, Peshawar University, ba ishterak Lok Virsa Islamabad 2008, Makh 10
- Mowaizee, da Peer Sabak jang, mashmola jangi charbaitay , Makh 16 ao 20
- Tair Muhammad Nawaz, Professor, Rohi Adab, Pashto Academy, Peshawar University , 1986, Makh, 425
- Hum dagha Makh, 431
- Payenda Khan, ghaza da Umra Khan, mashmola da charbaitay Pakhwani shayeran, Pashto Academy, Peshawar University, 2007. Makh, 78
- Taikadar, Abdul Wahid, charbaita sada zanzeerai, mashmola da charbaitay osani shayeran, murataba Hamaish Khalil, Pashto Academy, University of Peshawar, 2007, Makh, 172
- Ghamgeen, Multan, Da Multan Ghamgeen Ashaar, Pashto Adabi Jerga Peshawar, 1998, Makh , 47
- Meeya Kakkhel, Muqadar Shah, Charbaita, Mashmola da charbaitay osani shayeran Makh, 485
- Hum dagha Makh, 686, 687
- Syed Hasan, Charbaita, hartal da bahadar Khelo, mashmola da charbaitay osani shayeran, Makh, 309
- Khadim, Qayam-ud-Din, da Gandaw ghaza, mashmola da chabaitay osani shayeran Makh 216, 217
- Hum dagha, Makh, 220

- Khattak, Raj Wali Shah Doctor, da Pashto Adabi Tehreekona, Makh 437
- Maghmoom , Khattak, Yar Muhammad, Da Azadai Tehreek ao Pashto Shayri, Makh, 129, 130
- Gohar, Peer, Charbaita, mashmola da charbaitay osani shayeran , Makh, 131, 132
- Hum dagha Makh 132
- Sajid, Muhammad Aziz, Charbaita pa Kalabagh Dam, mashmola da charbaitay osani shayeran Makh, 277
- Fida Abdul Malik, Deewanay Fida, (martaba Hamaish Khalil), Darul tasneef Peshawar, November 1972, Makh, 96